مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د غويي درېيمه | د ۲۰۱۹ د اپرېل ۲۳مه | دويم کال|۳٦۸مه گڼه


ځېره
۴ مخ



## جیمز مونرو

جیمز مونرو تر ولسمشرۍ مخکې په فرانسه کې د امریکا سفیر، د ویرجینیا حاکم، د اساسي قانون په کنوانسیون کې د ویرجینیا استازی، سناتور، د بهرنیو چارو او دفاع وزیر پاتې شوی دی.


# د قطر پر ناسته د افغان سیاستوالو او امریکا ټینگار؛

## افغان حکومت دې د قطر ناسته او د سولې پروسه نه سبوتاژ کوي



۳

## په هلمند کې د غنمو دوه زره ټنه اصلاح شوي تخمونه تولیدېږي



د هلمند د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ ریاست چارواکو ویلي، چې د غنمو د اصلاح شویو تخمونو د کروندو ارزونې ښیي، چې سږ کال به په دغه ولایت کې د قراردادي بزگرانو او خصوصي شرکتونو له خوا دوه زره مټریک ټنه د غنمو اصلاح شوي تخمونه تولید شي.

د هلمند د کرنې رییس زلمي الکو ویلي، په دغه ولایت کې د غنمو د اصلاح شویو تخمونو د تولید په موخه، په دوه زره جریبه ځمکه کې د غنمو ۱۴ بېلابېل ډولونه کرل شوي دي، چې له دغو کروندو څخه به کابو دوه زره مټریک ټنه د غنمو اصلاح شوي تخمونه تر لاسه شي.

د ښاغلي الکو په خبره، د غنمو له دوو زرو مټریک ټنو اصلاح شویو تخمونو څخه به ۹۵۰ مټریک ټنه د هلمند پر بزگرو او ځمکوالو وېشل کېږي او پاتې نور به یې ځینو نورو ولایتونو ته ولېږدول شي.

### د ولسمشر د واک د مشروط دوام ورانديز
۲ مخ

### نالوستي ليکونه
۲ مخ

### څوک قانون غواړي او څوک يې نه غواړي؟
۳ مخ

## زلمي خلیلزاد د افغان سولې لپاره سیمې ته نوی سفر پیل کړی دی

د امریکا بهرنیو چارو وزارت ویلي، زلمي خلیلزاد د افغان سولې لپاره سیمې ته نوی سفر پیل کړی او نوموړی به په دغه سفر کې هڅه وکړي، چې د سولې لپاره د سیمې د هېوادونو ملاتړ ترلاسه کړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي، چې د خلیلزاد دغه سفر به د مې میاشتې تر یوولسمې دوام وکړي او نوموړی به افغانستان، هند، پاکستان، قطر، روسیې او بریټانیا ته سفرونه وکړي. په اعلامیه کې راغلي، د دغو سفرونو موخه دا ده چې افغان کشالې ته سوله ییزې حللارې ولټول شي.

د سرچینې په خبره، په کابل کې به خلیلزاد له افغان حکومت او نورو افغانانو سره سلا مشورې وکړي او دوی به وهڅوي چې د بین‌الافغاني خبرو اترو لپاره کار وکړي.

سرچینه دغه راز کاږي، په لندن، مسکو، اسلام آباد او نوي ډیلي کې به نوموړی کوښښ وکړي، چې د افغان سولې لپاره نړیوال ملاتړ ترلاسه کړي، څو افغانان وکولی شي چې یوې هر اړخیزې سولې ته ورسېږي.


په اعلامیه کې وړاندې راغلي، په دوحه کې به خلیلزاد له طالبانو سره خپلو مذاکراتو ته دوام ورکړي، څو د محوري ملي امنیتي مسایلو په اړه یوې اجماع ته سره ورسېږي او طالبان به دې ته وهڅوي، چې په ټولشموله بین‌الافغاني خبرو کې گډون وکړي.

## د قطر ناسته د ناسم مدیریت له کبله لغوه شوه



۳ مخ

## هفت کارگر یک معدن در درۀ صوف بالای سمنگان جان باختند



انفجار ناشی از گاز «میتان» در معدن زغال سنگ دهانۀ تور ولسوالی درۀ صوف بالای ولایت سمنگان، جان هفت کارگر را گرفت.

احمد علی حسنی ولسوال دره صوف بالا، به آژانس خبری پژواک گفته است که این رویداد، در یک تونل استخراجی زغال سنگ شخصی، به نام محمدالدین رخ داده است.

او افزوده است که گاز میتان، در داخل تونل یادشده شیوع نموده و سپس انفجار کرده است.

به اساس معلومات وی، دو تن از جان باختگان این رویداد، باشنده های ولسوالی درۀ صوف پایین، دو تن دیگر باشنده های ولسوالی دره صوف بالا، دو تن باشنده های ولسوالی بلخاب سرپل، و یک تن باشندۀ ولسوالی آق کپرک ولایت بلخ بود.

موصوف گفته است که حین وقوع رویداد یادشده، حدود سی تن در معدن مصروف کار بودند؛ اما بقیه نجات یافته اند.


ولسوالی خاطر نشان کرده است که تونل یادشده، دو هزار متر عمق داشته و به گونه غیرمعیاری و غیرقانونی فعالیت دارد.

این در حالی است که در ۱۳ روز پیش نیز انفجاری ناشی از گاز «میتان» در یک معدن زغال سنگ ولسوالی درۀ صوف بالای ولایت سمنگان، جان شش کارگر را گرفت.

همچنان در این ولسوالی در سال ۱۳۹۵ خورشیدی در رویداهای مشابه، چهار تن و در سال ۱۳۹۳ نیز ۲۹ کارگر زندگی شان را از دست داده بودند.


د کتاب نړیواله ورځ

د کتاب مینوال کولای شي له اکسوس څخه د کتاب نړیوالې ورځې په وياړ يو مهم او تر ټولو زيات پلورل شوی کتاب «ته ګټونکی يې» وړيا ترلاسه کړي.



Aksos
اکسوس کتاپلورنځی
Aksos Book Store

په ځانګړي تخفيف سره زيات کتابونه وپېرئ
سه شنبه د اپريل 23مه 2019

دریځ

## د ولسمشر د واک د مشروط دوام وړاندیز

د ولسمشر د واک د دوام په اړه د سترې محکمې له پرېکړې وروسته، ډېر سیاستوال او کاندیدان دا چاره ناقانونه گڼي او ټینگار کوي، چې د ولسمشر وخت د جوزا په لومړۍ نېټه پای ته رسېږي. حکومت او سیاسي مخالفین یې دواړه د اساسي قانون پر ٦۱مه ماده ټینگار کوي. مخالفین یې وایي چې قانون واضح د جوزا لومړۍ نېټه یادوي، خو حکومت او پلویان یې وایي چې هلته " تر ټاکنو وروسته" قید یاد شوی دی.

اوس پوښتنه دا ده چې دا لانجه به څنگه حل کېږي؟

که قانوني او حقوقي بحث کېږي، روښانه ده چې د ولسمشر وخت پوره دی او په دې اړه هېڅ تفسیر ته اړتیا نشته. دا سمه ده چې په ٦۱مه ماده کې ویل شوي، چې د جوزا په لومړۍ او تر ټاکنو وروسته د ولسمشر واک ختمېږي، خو قانون دا هم په واضح ډول وایي، چې ټاکنې باید د جوزا له لومړۍ نېټې ۳۰ یا ٦۰ ورځې وړاندې وشي. اوس چې حکومت د سیاسي دلایلو پر اساس ټاکنې نه کوي، نو پړه یې پر دوی ده او باید واک یې ونه غځول شي.

که د ولسمشر واک نه غځول کېږي، نو سیاسي خلا رامنځ ته کېږي، ځکه چې د ولسمشر د مرستیالانو وخت هم پوره دی. قانون بیا د مشرانو جرگې رییس ته د واک د لېږد حکم کوي، خو مشرانو جرگه هم ناقانونه ده، ځکه چې د ولسوالیو شوراگانو استازي نشته او د ولایتي شوراگانو وخت هم پوره دی. اوس چې مشرانو جرگه ناقانونه وي، نو مشر یې هم ناقانونه دی. قانون د مشرانو جرگې له مشر وروسته د بهرنیو چارو وزیر یادونه کوي، چې واک باید ورته انتقال شي، خو د بهرنیو چارو وزیر هم ناقانونه دی او پخوا د ولسي جرگې له خوا بې صلاحیته شوی دی. له همدې امله د واک یوه واقعي خلا رامنځ ته کېږي. دا چې ټاکنې نه کېږي، مشرانو جرگه ناقانونه ده او د بهرنیو چارو وزیر هم ناقانونه دی، نو د دې ټولو پړه بیا هم د ولسمشر په غاړه ده.

اوس د ستونزې د حل لپاره یوه لاره شته او هغه دا چې ولسمشر دې تر ټاکنو پورې واک ته په مشروط ډول دوام ورکړي. دا مشروطیت باید په څو برخو کې وي. لومړی دا چې حکومت باید تضمین ورکړي، چې په اعلان شوې نېټه به ټاکنې کېږي. دویم شرط به دا وي چې ولسمشر باید د سولې له مخالفته لاس واخلي. درېیم شرط به دا وي چې د اساسي قانون په ٦٤مه ماده کې ولسمشر ته ورکړل شوي واکونه باید محدود شي. د جوزا له لومړۍ نېټې وروسته له ولسمشر څخه باید د مقررۍ، منفکۍ، د بودجې د لگښت او ځینې نور اختیارات واخیستل شي. د دغو شرطونو د عملي کېدو یوه لاره دا ده، چې له دې وروسته باید ټول تصمیمونه له کاندیدانو او نورو مشرانو سره په گډه ونیول شي. ښایي داسې یوه شورا جوړه شي، چې هر لوی تصمیم د هغوی له منلو او توافق وروسته عملي شي. دا هغه لاره ده چې هم سیاسي مخالفین پرې راضي کېدلی شي، هم له واکه د ناوړه استفادې مخه نیولی شي او هم د قدرت د خلا د رامنځته کېدو مخه نیسي.

# نالوستي لیکونه



لیکنه: عبدالباري جهاني - پنځمه برخه:

**د امیر حبیب الله خان خپلوان او کورنۍ**

امیر عبدالرحمن خان، که هر څومره ظالم سړی و او که یې خپلې کورنۍ ته هر څومره زیات مالي امتیازات بښلي وو، خپل اولادونه او د کورنۍ غړي یې ټول په مرکز کې ساتلي وو او د مهمو ولایتونو اداره یې خپلو تر ټولو باوري کسانو او غلام بچه گانو ته سپارلې وه. هغه هم په دې توگه خپل اولادونه تر سترگو لاندې ساتلي وو او هم یې د تېرو وختونو په خلاف په خپله کورنۍ کې دننه د قدرت د نیولو پر سر د احتمالي دسیسو مخه نیولې وه. امیر حبیب الله خان، لړترلړه خپل یو زوی سردار حیات الله خان په بدخشان کې والي مقرر کړی و او د هغه د خپل سریو او تېریو په باره کې چې یې هر څه رپوټونه اورېدل، غوږونه یې وربانډې کاڼه کړي وو. د انگرېزانو استازی د ۱۹۰۸ ز کال د جولای د میاشتې د لومړۍ نېټې په رپوټ کې لیکي: «د اعلیحضرت زوی سردار حیات‌الله چې د بدخشان والي دی، په تېریو کې افراط کوي. د روستاق حاکم یې په سر پر لرگي وواهه او د کوپړۍ هډوکی یې ور مات کړ.

د برخېل د قبیلې یو سړی دی چې په فیض آباد کې په تبعید کې ژوند کوي. سردار خبر شو، چې هغه یوه ښایسته لور لري. له هغه سړي څخه یې وغوښتل چې په خپل کور کې یې مېلمه کړي. سړی یې په نیت پوه شو؛ مگر څه یې نه شوی ویلای او سردار یې په کور کې مېلمه کړ. هغه په عین وخت کې خپله لور خبره کړه او هغې ته یې ډکه توپنگچه ورکړه او ورته وې ویل، چې که دې زاریو گټه ونه کړه، نو له خپل عزت څخه د دفاع لپاره له توپنگچې څخه کار واخله. وخت را ورسېد او نجلۍ ته له توپنگچې څخه د کار اخیستلو پرته بله لار پاته نه شوه. کله چې یې پر سردار باندې ډز وکړ، هغه یې خطا کړ او سردار ځان په تېښته خلاص کړ.

سردار حیات الله خان د یوه مهم او زورور سړي سمندرخان یوې مېرمنې ته سړی واستاوه. سمندرخان په بله ورځ خپله ښځه طلاقه کړه او اعلیحضرت ته یې یو لیکلی شکایت واستاوه او د حیات الله خان د شرموونکو کارونو په باب یې ورته ولیکل. د سمندرخان اخښی چې د همدې طلاقې شوې ښځې ورور دی، هغه ښځه کابل ته راوسته او امیر ته یې مخامخ خپل شکایت واوراوه. امیر، حیات الله خان کابل ته وباله».

البته له وروستیو رپوټونو څخه معلومېږي چې حیات الله خان کابل ته نه دی راغلی او بیا هم د بدخشان والي دی. ځکه چې استازی د نومبر په اتلسمه په خپل رپوټ کې وایي، چې سردار عبدالله خان یو ځل بیا یو اوږد رپوټ لیکلی دی او امیر ته یې د هغو تېریو یادونه کړې ده، چې د بدخشان خلک د والي حیات الله خان له لاسه ورځخه کړېږي.

استازی د ډسمبر په دېرشمه لیکي، چې د بدخشان والي سردار حیات الله خان، چې تمه کېده کابل ته راشي، تر اوسه نه دی راغلی. دی ځکه کابل ته نه راځي، چې له برطرفۍ څخه وېره لري. امیر ته په دې وروستیو شپو ورځو کې اطلاع ورسېده، چې حیات الله خان خپل سړي روسیې ته لېږلي او هغوی ته یې ویلي، چې یوه ښکلې روسی نجلۍ، په هره بیه چې کېږي، ورته راولي.

امیر حبیب الله خپل میرېزي ورور سردار محمدعمر جان چې دا وخت نولس کلن و او د هغه مور بي بي حلیمې (ببوجانه) ته له کابل څخه د وتلو اجازه نه ورکوله. سردار محمدعمر جان چې له درباره بهر یې چنداني نوم او نښان نه و، کله کله له خپل موقف څخه په استفادې سره، ډېر غیرقانوني کارونه کول. البته امیر هغه ته سزا نه شوی ورکولای. د انگرېزانو استازی د جون په څلورویشتمه په خپل رپوت کې لیکي: «د ده افغانانو یو اوسېدونکی امیر ته راوستل شو، چې جعلي سکې یې جوړولې. کله چې له تورن سړي څخه تحقیق وشو، نو هغه وویل چې دغه کار د سردار محمدعمر جان په هدایت کوي. اعلیحضرت په دې موضوع کې نور اجرآات ونه کړل، خو تورن سړی یې تر ډېرلو وروسته خوشې کړ. دغه راز د مي په میاشت کې یو هندو له هغو قېمتي ډېرو سره ونیول شو، چې د جگدلک له کان څخه را ایستل شوي وې. هندو وویل چې هغه یوازې دلال دی او دا ډېرې د سردار محمدعمر جان په میرزا محمد ایوب پورې اړه لري. د میرزا ایوب کور تلاشي شو او څو دانې یاقوت پکې پیدا شول. میرزا او د جگدلک اتلس تنه اوسېدونکي چې گومان کېږي، له ده سره په دغه کار کې لاس لري، کوټه قلفي شول. پر کان باندې محافظین تبدیل شول. طبیعي خبره ده چې امیر بیا هم اجرآات ونه شوی کړای؛ ځکه چې د محمدعمر جان مور ببوجانه عادي ښځه نه وه او امیر مجبور و، چې د هغې خیال وساتي.

امیر حبیب الله د یوه مستبد پاچا په حیث، د هېواد د ټولې خزانې اختیار درلود او دا یې په ډېره غیرمنصفانه توگه لگوله. په داسې حال کې چې د ډېرو لړو مامورینو میاشتنۍ تنخوا سلو روپیو ته رسېدله. د انگرېزانو د استازي د ۱۹۰۸ ز کال د اگسټ د میاشتې د نهه ویشتمې رپوټ وایي، چې امیر د خپل زوی سردار عنایت الله خان میاشتنۍ تنخوا له څلورو زرو روپیو څخه لسو زرو ته لوړه کړه او د هغه ټول پورونه یې پر غاړه واخیستل.

د ۱۹۰۸ ز کال په پای کې د افغانستان ټول کلنی عاید څلوېښت میلیونه روپۍ و. که د سردار عنایت الله خان یوازې تنخوا له ټولو امتیازاتو پرته، د کال یو لک شل زره روپۍ وي، نو گواکې یوازې د یوه شهزاده تنخوا د هېواد له ټول کلني عاید څه باندې یو پر څلور سلنه کېږي. دا چې د امیر ډېرو مېرمنو چې حساب یې یوازې ده ته معلوم و، هره میاشت په زرگونو روپۍ تنخواوې اخیستې او د ټولو لباسونه د امیر له عصري سلیقې سره سم، له اروپا څخه راوړل کېدل؛ دا لگښتونه د امیر د نورو ډېرو بې عدالتیو ترڅنگ، یوه لویه بې انصافي وه.

د انگرېزانو استازی د اپرېل د نهه ویشتمې په رپوټ کې لیکي، چې د اورگون ځینو عسکرو ته د تېرو شپږو میاشتو تنخواوې نه وې ورکړل شوې او هغوی خپل مسوول منصبدار ته شکایت وکړ او ورته وې ویل، چې که شفتل رسېدلي وای، دوی به گوزاره پر کړې وای؛ مگر اوس له لوږې مړه کېږي. که دوی ته تنخواوې ونه رسېږي، نو دوی مجبور دي چې عسکري پرېږدي او گدایي وکړي. استازی وایي چې منصبدار یې هغوی ته په تونده لهجه وویل، چې تنخواوې یې نه دي را رسېدلې. په هغه شپه تقریباً دېرش تنه عسکر وتښتېدل او وسلې یې پرېښودلې. د یوه ملک عسکر دې د میاشتې پنځوس- شپېته روپۍ وانه خلي. شپږ میاشتې دې بې تنخوا گوزاره وکړي او شهزاده دې د میاشتې لس زره تنخوا واخلي.

د انگرېزانو استازی د اگسټ په نولسمه رپوټ ورکوي، چې د دې میاشتې په یوولسمه څوارلس تنه غله د غلا په وخت کې ونیول شول. وروسته معلومه شوه چې څلور تنه یې د اردلي کنډک سپاهیان، درې تنه یې د کوتوالۍ عسکر، درې تنه یې د امیر حبیب الله خان فراشان، درې تنه د سردار نصرالله خان فراشان او یو تن د علیاحضرتې ملکې کهار و.

سړی نه پوهېږي چې دغو عسکرو او پولیسو به چې په هغو کې د امیر او سردار فراشان هم شامل دي، ولې غلا ته مخه کړې وي. که دوی ته هم د اورگون د عسکرو په څېر تنخواوې نه وي رسېدلې او هغوی د لوږې او تنگدستۍ له امله غلاوو ته مخه کړې وي، نو بیا خو د امیر حبیب الله او د هغه د حکومت لپاره، دا په سل ځله د مرگ خبره ده.

**عدالت او امنیت:**

په مطلقه سلطنت کې عدالت او قانونیت خپل مفهوم ځکه له لاسه ورکوي، چې پاچاهان هغه څه ته عدالت وایي، چې دوی یې عدالت بولي. پاچاهان هغه څه کوي چې دوی یې ښه بولي، نه هغه څه چې ولسونه یا کتابونه ښه ورته وایي. د انگرېزانو استازی د ۱۹۰۸ ز کال د جنوري د نهه ویشتمې د رپوټ په ترڅ کې لیکي: «یو سړی دی چې غلام حسین نومېږي او په شوربازار کې ژوند کوي. ده د محمدحسین او نورحسین په نوم دوه زامن درلودل. دوه کاله مخکې کوتوال، محمدحسین، د برېتانیې د نماینده‌گۍ له یوه سړي سره د خبرو په تور په پټه وواژه. نورحسین هم تېره اونۍ د خپل بدمرغه ورور په څېر ووژل شو. غلام حسین د خپلو دوو زامنو د قتلېدلو یا ورکېدلو په باب سردار عنایت الله خان ته عریضه وکړه او هغه هم عریضه د امیر حضور ته وړاندې کړه. امیر وویل چې هېڅوک باید په گومان ونه وژل شي. که د چا په برخه کې کره شواهد پیدا شي، هغه باید چې ووژل شي. کوتوال وویل چې هغه ته هره ورځ رپوټونه رسېږي، چې د برېتانیې د نماینده‌گۍ سړي په بازار کې له خلکو سره خبرې کوي. سردار عنایت الله خان وویل چې د برېتانیې استازی هر وخت په سیل او چکر وځي او له خلکو سره گوري؛ ځکه یې نو ملگري او شناخته پیدا کړي دي.

سردار عنایت الله له کوتوال څخه پوښتنه وکړه، چې غلام حسین څرنگه په دې خبر شو، چې زامن یې کوتوال له منځه وړي دي. کوتوال تحقیقات وکړل او دا یې معلومه کړه، چې دغه معلومات د کوتوالۍ یوه عسکر فاش کړي دي. عسکر په جزایي توگه قلات ته تبدیل شو او امیر کوتوال ته امر وکړ، چې دا قضیه پټه کړي.

زه شخصاً نه غلام حسین او نه د هغه زامن پېژنم او دا ویلای شم، چې د برېتانیې د نماینده‌گۍ هېڅ سړي د هغه له زامنو سره تماس نه دی نیولی. غلام حسین ښایي له کوم شته من سړي سره دښمني درلوده او هغه د کوتوالۍ په وسیله تباهي وربانډې راوستلې وي».

**دوام لري...**

## په سریلانکا کې د وروستیو بریدونو د قربانیانو شمېر ۲۹۰ تنو ته رسېدلی دی



د سریلانکا پولیسو ویلي، د وروستیو بریدونو او چاودنو د قربانیو شمېر ۲۹۰ او د ټپیانو شمېر بیا ۵۰۰ تنو ته رسېدلی دی.

دغه چاودنې په پلازمېنه کولمبو کې د هوټلونو او کلیساوو په گډون، په څو ځایونو کې د مسیحیانو د اختر پر مراسمو شوې دي. له دغو خونړیو پېښو وروسته، په دغه هېواد کې د شپې پر گرځېدو بندیز لگول شوی دی.

د سریلانکا لومړي وزیر رانیل ویکرمسینگ له پېښې وروسته د کابینې بېړنۍ غونډه رابللې او پر خپل ټوبېر یې دغه بریدونه په کلکه غندلي دي.

نوموړي د کولمبو له یوې کلیسا څخه د باندې رسنیو ته ویلي: «د دې پېښې د عاملانو د موندلو لپاره امرونه صادر شوي. دغو چارواکو ته به د اړتیا وړ هر ډول صلاحیتونه ورکړل شي. موږ دغسې جنایتونو ته اجازه نه ورکوو. دا به هم وگورو چې په کومو برخو کې ناغېړي شوې ده. په را روانو څو ورځو کې مهم شی د سولې ساتنه ده».

دغه نهه چاودنې په پلازمېنه کولمبو کې په کلیساوو، هوټلونو او نورو ساحو کې شوې چې دا په دغه هېواد کې تر کورنۍ جگړې وروسته، تر ټولو خونړۍ پېښې گڼل شوې دي. د دغو چاودنو مسوولیت تر اوسه کومې ډلې نه دی منلی .

د سریلانکا دفاع وزیر رووان ویجي واردینا دا بمي چاودنې د مذهبي افراطیانو تروریستي بریدونه بللي او ویلي یې دي، داسې گومان کېږي چې ډېری چاودنې به ځانمرگي بریدونه وي. د یادونې ده چې دغو بریدونو په نړیواله کچه توند غبرگونونه هم راپارولي دي.

د نړۍ د کاتولیکانو مذهبي مشر پاپ فرانسېس د واتیکان په سنت پېټرز کې لسگونو زرو خلکو ته په وینا کې ویلي، د مسیحیانو د اختر نمانځنې لپاره په سریلانکا کې پر راټولو شویو وگړو بریدونه، وحشیانه او له ظلم ډک دي. دغه راز د امریکا، روسیې، جرمني او ترکیې د مشرانو په گډون، د نړۍ ډېرو مشرانو دغه پېښه غندلې او د قربانیانو له کورنیو سره یې خواخوږي ښودلې ده.



# څوک قانون غواړي او څوک يې نه غواړي؟

لیکنه: محمد اسمعیل یون

په افغانستان کې قانون د قاعدې بڼه غوره کړې. له تطبيقي اړخه يې استثناوې زياتې شوې، کله چې پر لومړۍ درجه چارواکو د قانون د تطبيق خبره مطرح شي، نو حالات او استثناآت د مخه کړي. کله چې قانون د حاکم په ګټه وي، نو بيا د قانونيت چيغې پورته شي او کله چې د قانون تطبيق يې ناکنټروله واک کنټرولوي، نو بيا د پلمو باران راخوشې کړي. هېڅ عقلمن افغان له دې خبرې انکار نه شي کولای، چې په اوسنۍ ګډوله حکومت کې د جمهور رييس په توګه د غني تر سوګند ۱۵ دقيقې وروسته اساسي قانون د همغه شخص له خوا تر پښو لاندې شو، چې د همدغه اساسي قانون د تطبيق لپاره يې سوګند خوړلی و. ما د يو افغان په توګه همغه وخت خپل غږ اوچت کړی، بيا چې په متواتر ډول قانون تر پښو لاندې کېده، هم مې خپل غږ پورته کړی دی. د غني او عبدالله په حکومت کې د اساسي قانون له دوو- دريو مادو پرته، له نورو اکثرو مادو څخه په متواتر ډول سرغړونه شوې او لا هم کېږي. په دې کې لومړۍ درجه مسوول خپله جمهور رييس او بيا د حکومت نور چارواکي دي. غوړه مال، ځانساتي، ورځ چاري او نور چې د قانون د حاکميت په نشتوالي کې يې ګټه ده، هېڅکله به د قانون د واکمنۍ غږ پورته نه کړي. اوس ځينې ښکنځلماران هم له دې ډلې سره يو ځای شوي دي. ستره محکمه اساساً له اساسي قانون سره د نورو قوانينو مطابقت څېړي، که په هغو قوانينو کې د اشخاصو د واک د تمديد څرنګوالی راغلی وي، نو محکمه د همغې محتوا له مخې نظر ورکوي، حکومت د وضاحت، وضاحت نه غواړي. اوس چې د جمهور رييس د کاري مودې مسئله سترې محکمې ته محول کېږي، سره له دې چې ابهام نه لري، خو همدې محکمې ته له اساسي قانون سره د اجرايه رياست د تطابق او تفسير مسئله ولې نه وړاندې کېږي، دا خو دا مانا لري چې دا يو کار د ښاغلي غني په ګټه دی، هغه دې محکمې ته وړاندې کېږي او د اجرايه رياست لغوه چې د ملت او قانون په ګټه ده او اوس يې د حکومت پوره نيمه برخه ناقانونه کړې، پر هغې بيا سترګې پټېږي؟ د جمهور رييس د کار موده په قانون کې تسجيل شوې ده. ياني ((د جمهور رييس وظيفه تر انتخاباتو وروسته د پنځم کال د غبرګولي پر لومړۍ نېټه پای ته رسېږي. د جمهور رييس د کار تر پای ته رسېدو د مخه، د نوي جمهور رييس د ټاکلو لپاره انتخابات له دېرشو تر شپېتو ورځو په وخت کې کېږي)). په دې برخه کې پوره وضاحت دی، کله چې په يوه ماده کې ابهام نه وي، سترې محکمې ته يې وړاندې کول ضروري نه دي، خو که بيا هم مخالفو کانديدانو اعتراض درلود، د هغو له ليکلي اعتراض سره بايد د حکومت له خوا محکمې ته د تفسير او له اساسي قانون سره د تطابق لپاره لېږل شوې وی. دا ماده پوره وضاحت لري، نيوکه پر دې ده چې مبهم او متنازع مسايل ولې د تفسير او تطابق لپاره محکمې ته نه وړاندې کېږي؟ جمهور رييس بايد لا پخوا له سترې محکمې څخه د مبهمو مسايلو تفسير غوښتی وای او خپل مکلفيت يې پوره کړی وای. د پوښتنې وړ خبره دا ده چې که جمهور رييس ((تر انتخاباتو وروسته)) عبارت ټيک کړي، ټاکنې يرغمل کړي، هر وخت ورته پلمې جوړې کړي، کولای شي تر پنځو کلونو پورې خپله موده وغځوي. بيا به په دغه حالت کې څه کېږي؟ دا بحث يوازې د ښاغلي غني پر حاکميت نه دی، بلکې هر يو ته به دا لاره خلاصه شي.

اوس چې جمهور رييس د اساسي قانون له مخې ستره محکمه د خپل واک د غځولو يوه قانوني سرچينه ګڼي، نو ورته عمل به پر اجرايه رياست څنګه تطبيقوي؟ که د اجرايه رياست پوست محکمې ته مخکې شي، محکمه به ورته وايي چې دا خو په اساسي قانون کې هېڅ وضاحت نه لري، موږ څه وڅېړو؟ نو دلته بيا دا پوښتنه پيدا کېږي چې که اجرايه رياست د قانون خلاف دی، سترې محکمې پرې ولې پنځه کاله ځان غلی کړ؟ ولې جمهور رييس د دغه پوست د متصدي کاري موده دومره وغځوله؟ که قانوني و، نو ولې له اساسي قانون سره سم د هغه د وضاحت مسئله له محکمې سره نه مطرح کېږي؟ که له قانوني پلوه محکمې ته د محول کېدو وړ نه وي او يوازې د جمهور رييس په فرمان رامنځته شوی وي، نو دی بيا ولې دومره ترور شو چې د اساسي قانون خلاف کار وکړي؟ که چېرې يې د پرديو په زور جبراً دغه کار ترسره کړی وي، نو د استقلاليت دا دومره چيغې خو په ښکاره د تکلف او تصنع ښکارندويي کوي، نو اوس که څوک رښتيا هم د قانون مينه وال او لېوال وي، راځئ چې قانون پر ټولو تطبيق کړو. تر ټولو د مخه بايد جمهور رييس ته دا مسئله راجع کړو، ځکه دی لومړی سړی دی چې پر قانون يې قسم خوړلی او د قانون د تطبيق مسووليت لري. د مفکر صېب خيالي او نظري ښکنځلمارو ته چلنج دی، چې که په تاسو کې رښتيا هم دومره متره وي، راووځئ د سترې محکمې مخې ته لاريون وکړئ، اجرايه رياست لغوه کړئ، له محکمې فيصله واخلئ، د بهرنيو چارو وزير لرې کړئ، امرالله صالح چې اوس تر قانون پورته کارونه کوي، د هغو مخه ونيسئ او که دا توره نه شئ کولای؛ لاړ شئ پر خپل ((محبوب)) مفکر مو فشار راوړئ چې پر عبدالله، محقق، خليلي او نورو پخوانيو او اوسنيو چارواکو، چې د ده په حکم مقرر شوي او يا مقررېږي، قانون تطبيق کړي. يو دولت مشر چې په شپږو مياشتو کې د ولسي جرګې ټاکنې نه شي اعلانولای او د خپل دولت يو رکن نه شي بشپړولای، پر هغه له نيوکې ډډه کول په خپله لاقانونيت ته لاره هوارول دي. ښکنځلمارانو ته اړتيا نشته، ځکه د هر ښکنځلمار په شخصيت کې په مستقيم او نا مستقيم ډول د هغه د ممدوح شخصيت انځورېږي. جمهور رييس تر شپږو سوو زيات مشاورين او نور قانونپوهان لري، هغوی بايد ټولو ناقانونه چارو ته قانوني ځواب ووايي. په همدغه حکومت کې د هېواد او سيمې په کچه تر سلو زيات داسې لنډغر وو او لا هم شته چې د ښاغلي مفکر سيوری يې په ټوپونو ويشت، خو د همدغه غني په لاسليک په لوړو پوستونو کې مقرر شول او لا هم مقررېږي. جرئت د چا د امنيت شورا مرستيال او مشاور و؟ عطامحمد نور څلور کاله د چا والي و؟ عبدالله عبدالله پنځه کاله د چا اجرايه رييس دی؟ احمدضيا مسعود د چا ځانګړی استازی او درېيم مرستيال و؟ الماس د چا فوق العاده استازی دی؟ امرالله صالح د چا مخالف و او اوس د چا مرستيال دی؟ په اوسني حکومت کې د لنډغرو له لېست څخه پوره يوه ليکنه جوړېږي. زه د هغو اشخاصو له جملې څخه يم چې زما کورنۍ سل سلنه مفکر صاحب ته کمپاين کړی او سل سلنه رايه مو ورکړې ده؛ خو ښاغلي غني له خپلې څلور کسيزې کورنۍ څخه (۲۵) سلنه رايه راخپله کړې ده. ياني نه يې زوی، نه يې لور او نه يې هم مېرمنې رايه ورکړې، يوازې خپله رايه يې ځان ته کارولې ده. مفکر صېب د ټول افغان ولس پوروړی دی. زما اختلاف ورسره له هغې ورځې راغی چې پر اساسي قانون يې معامله وکړه، له لنډغرو سره يې ګډ حکومت جوړ کړ، هر کله يې چې قانوني ګام پورته کړی، موږ يې ملاتړ کړی. موږ ته قانون مهم دی، نه غني، نه مفکر او نه هم مفکرات. غني تر هغه وخته د تاييد وړ دی، چې له قانون سره سم روان وي. البته پر مجبوريتونو او تنګلاسۍ يې موږ ټول پوهېږو، که له نورو جنګسالارانو سره د پرتلې خبره راشي، هلته بيا زموږ دريځ بل ډول دی. ما ته يو وخت همدغه ښاغلي غني چې هغه وخت کانديد و، وويل چې لاس راکړه او ژمنه راسره وکړه چې تر کومه راسره ودرېږې؟ ما ورته وويل ډاکټر صيب! زه د ټلوالې او عبدالله دومره مخالف يم، چې ته ورسره يو ځای شې، ستا مخالفت هم کوم. ده له عبدالله سره له هرې نامشروع وجې چې و، ګډ حکومت جوړ کړ، خو ما هم خپله ژمنه تر دې دمه عملي کړه. اوس که دی بيا له هرې لارې په ټاکنو کې بريالی شي، د عبدالله ځای به د ده پخوانی مخالف او اوسنی نازولی (امرالله صالح) نيسي او څوک يې چې خواخوږي دي، هغه به حاشيې ته ځي. نو ښکنځلمارانو د شخص ستاينې پرېږدئ، قانون وپالئ او لږ وجدان او تاريخ ته هم خپله غاړه خلاصه کړئ!

# د قطر پر ناسته د افغان سياستوالو او امريکا ټينګار؛

## افغان حکومت دې د قطر ناسته او د سولې پروسه نه سبوتاژ کوي



سياسي څېرې او ګوندونه تور پورې کوي، چې حکومت په لوی لاس د سولې هڅې سبوتاژ کوي. وروسته له دې چې سترې محکمې د ولسمشر غني د واک موده وغځوله او په قطر کې د بين الافغاني خبرو کنفرانس لغوه شو، نو پر حکومت هم نيوکې ډېرې شوې. ځينې سياسي څېرې او ګوندونه وايي، حکومت په لوی لاس د سولې رواني هڅې سبوتاژ کوي چې دا د هېواد په ګټه نه دي. بل پلو سره له دې چې حکومت د دوحې ناستې د لغوه کېدو پړه پر قطر واچوله، خو امريکا په يو ډول په دغه مسئله کې افغان حکومت پړ بللی دی. امريکايي لوري له افغان حکومته غوښتي، چې ژر تر ژره دې د قطر بين‌الافغاني مذاکراتو لپاره زمينه برابره کړي.

د سياسي جريانونو له ډلې د افغانستان د خلاصون لارې شورا وايي، افغان حکومت د قطر ناسته او سولې پيل شوې هلې ځلې سبوتاژ کوي او ولسمشر هڅه کوي چې د مشورتي لويې جرګې په وسيله د خپل واک موده وغځوي. د دې شورا رييس سيداکبر اغا ويلي، تر سولې وړاندې د ټاکنو ترسره کول له وضعيت سره مرسته نشي کولی او ضروري ده، چې حکومت د سولې لپاره قرباني ورکړي. اکبر اغا زياته کړې: ((دا سمه ده چې ټاکنې له سولې سره مرستې نه شي کولی. لومړی بايد سوله وشي او بيا دې پر ټاکنو خبرې وشي)).

د نوې ملي جبهې رييس او د ځينو نورو سياسي ګوندونو استازي وايي، که څه هم په کور دننه او بهر له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو وتلو په اړه دريځونه بدل شوي او د سولې لپاره زمينه برابره شوې ده، خو حکومت د سولې بهير يرغمل کړی دی.

د دغه جبهې مشر انورالحق احدي ويلي: ((په نړيواله کچه ټول د دې پلويان دي، چې په افغانستان کې سوله وشي، خو حکومت دغه بهير يرغمل کړی دی، دوی د سولې په لار کې خنډ جوړوي)).

افغان سياستوال پر حکومت نيوکه کوي، چې د واک مودې غځولو لپاره د سولې هڅو پر وړاندې ننګونې راپورته کوي. دوی وايي چې حکومت دې سولې ته لومړيتوب ورکړي.

بل پلو د امريکا د بهرنيو چارو وزير هم پرون له ولسمشر غني سره په ټليفوني خبرو کې په افغانستان کې د سولې پر خبرو ټينګار کړی دی. هغه په يو ډول د قطر ناستې د لغوه کېدو پړه پر افغان حکومت اچولې ده، خو په ټينګار يې ترې غوښتي چې بايد د لېست پر سر ستونزې ختمې کړي او د قطر بين الافغاني ناستې ته دې زمينه برابره کړي. د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په اعلاميه کې راغلي: ((مايک پامپيو په قطر کې د پلان شوي کنفرانس پر لغوه کېدو خواشيني ښودلې، دواړه لوري په دې سلا شول چې د قطر بين‌الافغاني مذاکراتو د ترسره کېدو لپاره ژر تر ژره شرايط برابر شي او غوښتنه وشوه، چې د دې ناستې د ګډونوالو پر لېست توافق وشي، څو دغه ناسته په يوه مناسب فرصت کې ترسره شي)).

افغان سياستوال داسې مهال حکومت د سولې پروسې پر سبوتاژولو تورنوي، چې په پام کې وه د اپرېل په ۲۰مه او ۲۱مه نېټه په قطر کې د افغان سياستوالو او طالب استازو ترمنځ ناسته ترسره شي، خو دې ناستې ته د حکومت له لوري د ۲۵۰ کسيز هيئت له معرفي کېدو سره د طالبانو او قطر حکومت مخالفت د دې سبب شو، چې دغه ناسته د اوس لپاره لغو شي.

# عبدالله: د قطر ناسته د ناسم مديريت له کبله لغوه شوه

د ملي يووالي حکومت اجرايه رييس عبدالله عبدالله د قطر ناسته له طالبانو سره د سولې د مخامخ خبرو لپاره مناسب فرصت بللی، خو نيوکه يې کړې چې دغه ناسته د ناسم مديريت له امله لغوه شوې ده.

دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې وه، د قطر ناسته د روانې ميلادي مياشتې په ۲۰مه او ۲۱مه ترسره شي. حکومت په دې ناسته کې د ګډون لپاره د ۲۵۰ کسانو نوملړ برابر کړ، خو طالبانو يې په غبرګون کې وويل، د يادې ناستې جوړوونکي به د حکومت له خوا په دومره شمېر کسان ونه مني او نه هم په دې ډول ناستو کې دغه ډول ګډون رواج دی.

عبدالله تېره ورځ د وزيرانو شورا په ناسته کې ويلي: «له طالبانو سره د ناستې لپاره په قطر کې د خبرو زمينه برابره شوې وه، خو د ناسم مديريت له امله لغوه شوه». نوموړي سوله د هېوادوالو مهمه اړتيا بللې او ويلي يې دي، چې تر اوسه هم د دغه ډول ناستو لپاره د زمينې برابرولو لپاره تيارۍ روان دی او له لاسته راغلو فرصتونو څخه استفاده کېږي.

هغه دغه راز زياته کړې: «د افغانستان خلکو خپله اراده او عزم څرګند کړ، چې د يوه ارام او سوله ييز ژوند په لټه کې دي. په دې هيله چې موږ خپلې پخوانۍ هيلې (د سولې ټينګښت) او په هېواد کې د جګړې پای ته رسولو ته ورسېږو».

عبدالله ويلي، د افغانستان د خلکو د واحد غږ د پورته کولو په ځانګړې توګه په هېواد کې د سولې د ټينګښت لپاره د رهبرۍ مشورتي شورا ته اړتيا ده او کولی شي چې ګټوره واقع شي او دا روښانه شي چې څوک د جګړې د دوام او څوک د سولې غوښتونکي دي.

اجرايه رييس دغه راز پر مخابراتو وزارت د وري د ۳۱مې بريد، د عامه خدمتونو پر بنسټونو بريد ګڼلی او په کلکو ټکو يې غندلی دی.

نوموړي په هېواد کې د ناامنيو دوام ته په اشارې ويلي: «له بده مرغه چې طالبانو د الفتح په نوم د عمليانو پر اعلان د جګړې مسووليت په غاړه واخيست، خو سره له دې هم خلک د سولې غوښتنه کوي او سوله يوه اړتيا بولي».

# د کتــاب خبــرې

## د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### نهم څپرکی
### پر خلکو نېک گومان کوئ




د دې شپږو اصولو عملي کول له خلکو سره د مینې کولو او د هغوی د خوښولو په مانا دي. که غواړئ یوه شئ چې عادي خلک داسې فکر نه لري، نو دا واورئ چې عادي خلک هېڅکله لومړی ځان نه در پېژني. دوی په تمه وي چې مقابل لوری ورته لومړی ځان معرفي کړي.

لومړی گام تاسې واخلئ او بریالی انسان شئ. له خلکو سره په لیدو کاتو ځان ته تکلیف ورکړئ. لټې مه کوئ. شرمېږئ مه. له نوي کاره مه شرمېږئ. د مقابل لوري واقعي شخصیت وپېژنئ او هڅه وکړئ چې پر هغه خپل واقعي شخصیت وپېژنئ.

څه وخت مخکې مې له خپل یوه همکار سره د یوه نوي کارکوونکي کاري مرکه اخیسته، هلک تکړه و، ښه وړتیا یې لرله، ځیرک و، ښه منظم و او لوړ خیالونه یې لرل.

خو بیا هم موږ مجبور شو چې دا ځوان لږ تر لږه د لنډې مودې لپاره رد کړو. ستونزه پکې دا وه چې ده ویل: ټول خلک دې باید کامل (پوره) وي. نوموړی په ډېرو وړو مسائلو نارامه کېده، لکه د نورو سگرټ څکول، خیرنې جامې او نورې وړې تېروتنې.

هلک چې په دې خپله ستونزه پوه شو، نو حیران شو، خو ویل یې چې هر څنگه وي د لوړ معاش دنده باید ولري، په دې خاطر یې موږ نه پوښتنه وکړه چې پر دې ضعف به مې څنگه برلاسی شم؟

موږ ورته وویل چې دغه دریو پړاونو ته پام کوه:

۱. دا ومنه چې هېڅ انسان بشپړ یا کامل نه دی. ځینې انسانان تر یوه حده ښه وي، خو پوره انسان نشته. په ټولو انسانانو کې دا یو انساني خوی مشترک دی چې تېروځي.

۲. دې ته پام کوئ چې نور ستا په څېر کېدو ته مجبور نه دي، هر څوک د خپل ځان حق لري. خلکو ته خدای کېږه مه. د هغوی ځینې عادتونه به له تاسې سره توپیر لري، جامې، مېلمستیاوې، موټر یا دین ته به ترجیح ورکوي، ته ورسره هغه کارونه مه کوه، خو هغوی هم د خپلو کارونو او عادتونو له مخې بد مه راوړه.

۳. د هر څه د اصلاح هڅه مه کوه. ته هم ژوند کوه او نور هم ژوند ته پرېږده. که چا ته دې وویل چې ناسم لگیا یې، دستي کلک غبرگون ښیي. هر چاته خپل فکر او نظر سم ښکاري، خو ځینې وخت یې که له ځان سره وساتې ښه به وي.

هغه ځوان دا سپارښتنې ومنلې او څو میاشتې وروسته یې یو نوی ذهنیت او لیدلوری پیدا کړ. اوس چې خلک څنگه دي، هماغسې یې مني او پر دې پوهېږي چې نه انسانان سل سلنه ښه دي او نه سل سلنه بد.

وایي: (پخوا به مې چې څه شي ته غوسه راتله اوس خندا راولي. بلاخره مې یوه ورځ وویل: که د دنیا کې ټول خلک یو ډول (کامل) شي، نو دا دنیا به بیخي بې خونده شي.)

دې ساده او مهمې خبرې ته پام وکړئ: هېڅوک په ټوله مانا ښه یا بد نه دي، هېڅ انسان پوره نه دی.

که موږ خپل فکر قابو نه کړو، نو په هر انسان کې لږ و ډېر کمی شته او داسې ټکي پکې پیدا کېږي چې ستاسې د کرکې لامل شي. که خپل ذهن برابر کړو او خلکو سره مینه وکړو، نو په هر انسان کې ځینې ښېگڼې پیدا کولای شو.

له دې اړخه وگورئ: ستاسې ذهن داسې دی، لکه راډیو . دا راډیو په دوو مساوي (مثبت او منفي) څپو خپرونې کوي.

اوس وگورئ چې تاسې څنگه خپرونې کوئ؟ داسې وگڼئ چې ستاسې د شرکت مشر تاسې خپل دفتر ته ور غواړي، ستاسې چارې ارزوي، کار مو ستایي او د کارونو د ودې لپاره درته وړې سپارښتنې هم کوي. د شپې به طبعاً ننني پېښه دریادېږي او لږ فکر به پرې کوئ.

که په منفي څپه لاړئ، ذهن به مو درته داسې وایي چې: (پام کوه، رئیس راته ښه سړی نه ښکاري، هسې بهانې لټوي. ته د هغه لارښوونو ته اړتیا نه لرې. یادېږي دې چې یوه همکار مو د رئیس په اړه څه ویل؟ د هغه خبره رښتیا ده. رئیس تا هسې د ځان په څېر وړوکی کوي. مقاومت ورسره وکړه. بله ورځ یې چې ور وغوښتې، سم ځواب ورکړه. څه ته گورې؟ سبا دفتر ته ورشه او ورته ووایه چې ستا د پرونیو نیوکو او سپارښتونو هدف څه و؟)

خو که موج مو مثبت وي، نو ځان سره به وایئ: (رئیس صیب ډېر بد سړی نه دی، خبرې یې تر یوه حده سمې دي، که یې ومنم ښایي کار مې ورسره ښه او معاش مې ورسره لوړ شي. هغه ته گران یم، سبا ورځم او د دې ښو لارښوونو مننه ترې کوم. زما همکار رښتیا ویل چې رئیس سره ښه کار کېږي.)

نو که تاسې منفي موج ته پام وکړ، خپلو مشرانو سره په اړیکو کې به سختې تېروتنې وکړئ، خو که مثبت ته مو پام وکړ، نو د هغوی له نظریاتو به گټه واخلئ او ځان به هم ور نږدې کړئ. هغه به مو هم په لیدو خوښ شي. تجربه یې کړئ او ویې گورئ.

دا یاد ساتئ، څومره چې په مثبت یا منفي موج ډېر پاتې کېږئ، هومره مو ورسره علاقه زیاتېږي او بیا به یې بدلول سخت وي. ځکه فکر که مثبت وي او که منفي د ځان په اړه د یو لړ زنځیري غبرگونونو د را پارېدو لامل کېږي.

مثلاً، ښایي تاسې د یوه شخص د لهجې په اړه منفي فکر وکړئ، خو وروسته به گورئ چې د هغه عقیدې، سیاسي لیدلورې، موټر، خویونو او حتی وېښتو اړولو په اړه به مو هم منفي فکرونه ذهن ته راځي او داسې فکر تاسې هېڅ وخت تر بري نه شي رسولای. **دوام لري...**

# جیمز مونرو

شفیق امیرزی



جیمز مونرو د امریکا پنځم ولسمشر دی. هغه د ۱۸۱۷ او ۱۸۲۵ ز کلونو ترمنځ د امریکا ولسمشر و. هغه له ویرجینیا څلورم کس دی چې دې څوکۍ ته رسېږي. جیمز مونرو په ۱۷۵۸ ز کال کې د ویرجینیا په ویست مورلند کې زیږېدلی دی. هغه د ویلیام او مري په کالج کې زده کړې کړې دي. د کانتینېنټال په پوځونو کې یې د نوموتې سرتېرې په توگه فعالیت کاوه. وروسته بیا وکالت ته را وگرځېد او دا دنده یې پیل کړه. هغه تر ولسمشرۍ مخکې په فرانسه کې د امریکا سفیر، د ویرجینیا حاکم، د اساسي قانون په کنوانسیون کې د ویرجینیا استازی، سناتور، د بهرنیو چارو او دفاع وزیر پاتې شوی دی.

جیمز مونرو لا ځوان سیاستوال و چې د ویرجینیا په کنوانسیون کې له مخالفو فدرالیستانو سره یو ځای شو. په ۱۷۹۰ ز کال کې داسې مهال چې د جیفرسوني سیاست پلوی و، د سناتور په توگه انتخاب شو.

مونرو ډېر مغروره او پر ځان باوري سړی و. هغه په ۱۸۰۷ ز کال کې د جیمز مدیسون ملاتړ وکړ او د هغه رقیب روفوس کېنگ ته یې شرموونکې ماتې ورکړه. مونرو په خپل توان د دې جوگه کېږي چې وروسته ځان ولسمشرۍ ته نوماند کړي. په هغه وخت کې د امریکا نفوس د ۹،٦ میلیونو کسانو په شاوخوا کې و. مونرو چې د خپل واک لومړۍ دوره ختمه کړه، نو د دویم ځل لپاره یې په ټاکنو کې گډون وکړ، په اسانۍ بریالی شو، چې د ۱۸۲۰ ز کال ولسمشریزې ټاکنې هم وگټي. هغه د کابینې په جوړولو کې زړور و او د هېچا د خپگان پروا یې نه ساتله. په پوره جدیت یې په خپل زړه د کار وړ او لایقه کابینه جوړه کړه. د هېواد له گوټ گوټ څخه یې کسان پکې انتخاب کړل او دوی ته یې خپل کاري صلاحیتونه ورکړل.

مونرو ملتپال سیاست درلود. همدې مسئلې په امریکا کې هغه ته ځانگړې محبوبیت ورکړی و، خو د دې تر څنگ چې ملي پال سیاستونه مخ ته وړل کېدل، له ځینو برخو د بېلتون پالنې غږونه هم اوچتېدل. د هغه د واکمنۍ پر مهال د میسوري خلکو غوښتل چې د غلام لرونکو ایالتونو په ډله کې شامل شي، خو مونرو یې مخالفت کاوه. د غلامۍ او غلامانو د له منځه وړلو په سر مونرو اوږدو مذاکراتو ته مخه کړه او دغو خبرو په کنگره کې دوه کاله وخت ونیو. هغه غوښتل چې د یوې لایحې پر مټ په تدریجي توگه په امریکا کې د غلامۍ لمن ټوله کړي او امریکایان پر دې باوري کړي چې خپل غلامان ازاد کړي.

د مونرو کورنۍ په ویرجینیا کې مشهوره وه. مونرو د ویست مورلند په ځنگلي سیمه کې د خپل پلار په یوه پخواني او تاریخي کور کې زیږېدلی دی. دا سیمه اوس د مونرو هال په نامه مشهوره ده. د هغه کور اوس د امریکا په تاریخي ځایونو کې شمېرل کېږي. پلار یې سپنس مونرو یو نسبتاً بریالی بزگر و. د دې تر څنگ یې له ترکاڼۍ سره هم مینه لرله او وخت ناوخته به یې ځینې توکي جوړول. د نوموړي پلار پنځه اولادونه درلودل او دی د دې کورنۍ څلورم اولاد دی.

مونرو په یوولس کلنۍ کې په ښوونځي کې شامل شو. هغه به یوولس اونۍ په کال کې دغه ښوونځي ته ورتلو. له دې ور هاخوا دی اړ و چې په خپلو کروندو کې کار وکړي. د مونرو مور په ۱۷۷۲ ز کال کې مړه شوه او دوه کاله وروسته یې پلار هم ومړ. سره له دې چې له مور او پلار ورته ډېر میراث پاتې و، خو ځوان مونرو اړ شو چې ښوونځی پرېږدي او د خپلو کشرانو وروڼو سرپرستي وکړي. نیکه یې جونز وروسته د نوموړي د کورنۍ مسوولیت ومانه او مونرو یې د ویرجینیا مرکز ته راوست او په ویلیام کالج کې یې شامل کړ. جونز هغه د ویرجینیا له مهمو شخصیتونو لکه توماس جیفرسون، پاتریک هنري او جورج واشنگټن سره هم معرفي کړ. مونرو په ۱۷۸٦ ز کال کې له الیزابت کورټې رایټ سره واده وکړ. دوی په نیویارک کې ژوند کاوه، خو کله چې نوموړی ویرجینیا ته لاړ، نو دوی له دغه ځایه کډه وکړه. مونرو د سیاسي موقف او ځای ځایگي د ترلاسه کولو لپاره په ویرجینیا کې خپلې ځمکې خرڅې کړې. بیا چې کله سیاسي موقف ته ورسېد، نو ځمکې او غلامان یې واخیستل. ده په ځوانۍ کې دا خیال درلود، چې پراخې مزرعې ولري او خلک کار پکې وکړي. خو مونرو ځان ته شانداره ژوند جوړ کړی و، چې له همدې امله به کله کله په قرضونو کې ډوب و. کروندو یې ډېره گټه نه کوله، وروسته دی مجبور کېده، چې د خپلو پورونو د خلاصولو لپاره خپله ځمکه او ځینې غلامان خرڅ کړي.

جیمز مونرو په ویرجینیا کې تر کار وروسته د امریکایي سیاستوالو په هڅونه، د امریکا د کانگرېس غړیتوب ته متې ونغاړلې. هغه له جیمز مدیسون سره په رقابت کې و او دواړو هڅه کوله چې له ویرجینیا کانگرېس ته لاره پیدا کړي. دوی به یو ځای سفرونه کول، سره له دې چې حریفان وو، خو له یو بل سره یې کلکه ملگرتیا کوله او د کمپاینونو او سیالیو منډو ترړو یې پر ملگرتیا اغېز نه درلود. په پای کې مدیسون بریالی شو چې له مونرو رایې وگټې. مونرو په دې سیالۍ کې تر ماتې وروسته، بېرته خپلې کروندې ته راگرځي، خو کله چې د کانگرېس یو غړی ویلیام گرېسون مړ کېږي، نو مونرو یې پر ځای دنده پیلوي.

جیمز مونرو په ۱۷۹۴ ز کال کې په فرانسه کې د امریکا سفیر شو. هغه د خپل سفارت پرمهال له فرانسې سره څو هوکړې لاسلیک کړې. د فرانسې او امریکا ترمنځ یې له سوداگرۍ دفاع کوله، خو د ځینو اختلافونو له امله د امریکا حکومت په ۱۷۹٦ ز کال کې بېرته را وغوښت. مونرو بیا هم بېرته خپلې کروندې ته لاړ او کارونه یې پیل کړل.

جیمز مونرو په ۱۷۹۹ ز کال کې د ویرجینیا ایالت د والي په توگه وگومارل شو. هغه چې کله دې څوکۍ ته ورسېد، نو پوهېده چې د ایالتي والي واکونه په نشت شمار دي. له همدې امله یې هڅه پیل کړه، چې قانونپوهان په دې قانع کړي چې د ایالتي والي واکونه ډېر کړي. استازو د پوهنې، ښوونې روزنې، بیا رغونې، امنیت او نظامي اقداماتو په برخه کې د مونرو واکونه ډېر کړل. جیمز مونرو همدا راز د هغو خلکو پر وړاندې عملیات پیل کړل چې د داخلي امنیت لپاره خطرناک وو. ده یو ځل ۲۷ هغه کسان اعدام کړل چې د ویرجینیا امنیتي چاپېریال یې گواښه او حکومت ته یې تهدیدونه جوړول. هغه په ۱۸۰۳ ز کال کې په برېټانیا کې د امریکا سفیر وټاکل شو. مونرو په خپله کاري موده کې له برېټانیا سره د امریکا اړیکې ښې کړې او ځینې پخوانۍ هوکړې یې له سره ورسره تمدید کړې.

په ۱۸۰۷ ز کال کې چې مونرو له برېټانیا را وگرځېد، نو په ویرجینیا کې یې ډېر تود هرکلی وشو. ډلې ډلې سیاستوال ورته راغلل او له ده یې وغوښتل چې راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته ځان نوماند کړي. د هغه اړیکې له جیمز مدیسون سره ښې نه وې، خو د توماس جفرسون ملاتړ یې هم ونه کړ. ده بالاخره د خلکو خبره ومنله او په ویرجینیا کې یې تر ټولو ډېرې رایې گټلې وې.

مونرو په ۱۸۱۱ ز کال کې مدیسون ور وغوښت او پخواني اختلافونه یې سره لرې کړل. مدیسون هغه مهال د امریکا ولسمشر و، خو په سختو حالاتو کې گیر و. ده غوښتل په دې توگه د مونرو د پلویانو باور خپل کړي او هم وکړی شي چې د مونرو له سیاستونو په استفادې، په امریکا کې روان وضعیت کنټرول کړي. هماغه وو چې جیمز مونرو یې د بهرنیو چارو د وزیر په توگه وگوماره. په دې وخت کې له فرانسې او برېټانیا سره د امریکا اړیکې خورا ترینگلې شوې وې. دوی د یو بل پر بېړیو او ځمکو بریدونه کول. برېټانویانو به د امریکا پر سوداگریزو بېړیو بریدونه کول او فرانسویانو هم د دوی کسان او سوداگریز توکي نیول. جیمز مدیسون په همدې حساسو شرایطو کې د بهرنیو چارو وزارت جیمز مونرو ته پرېښود.

مونرو په خپلو هڅو سره بریالی شو، چې له فرانسې سره ستونزه ختمه کړي، خو برېټانیا پر خپلو فعالیتونو ټینگار کاوه. له همدې امله څه موده وروسته د امریکا کانگرېس پرېکړه وکړه، چې له برېټانیا سره له نظامي لارو مخکې لاړ شي. د برېټانیا او امریکا ترمنځ د جیمز مدیسون د واکمنۍ پر مهال جگړه نښلي او برېټانویان ان په واشنگټن کې حکومتي تاسیساتو ته اور اچوي. په دغه وخت کې د دفاع وزیر له دندې گوښه کېږي او دغه څوکۍ هم مونرو ته سپارل کېږي. مونرو په هممهاله توگه هم د بهرنیو چارو او هم د دفاع وزیر دی.

جیمز مونرو هم د جگړې په ډگر کې او هم د مذاکراتو په ډگر کې بریا ته د رسېدو هڅه کوله. پر کانگرېس یې د سلو زرو سرتېرو د تیارولو غوښتنه ومنله. قربانیانو لپاره یې د مرستې او همکارۍ بانک تاسیس کړ. د دفاعي او نظامي برخو لپاره یې ډېره بودیجه وغوښته او پر دې بریالی شو، چې حالات کنټرول کړي. بالاخره د برېټانیا او امریکا ترمنځ دغه جگړه په ۱۸۱۵ ز کال کې د مونرو د ډیپلوماټیکو او نظامي هڅو له پوره اغېزمنتیا وروسته، د یوې هوکړې په لاسلیکولو پای ته ورسېده.

مونرو په ۱۸۱٦ ز کال کې ځان د امریکا ولسمشریزو ټاکنو ته نوماند کړ. هغه د جگړې پر مهال او همدا راز د امریکا د بهرني سیاست د کنټرول په خاطر ځانگړې محبوبیت گټلی و. ډېری امریکایان پر دې باور وو، چې ښایي مونرو د مدیسون غوره ځای ناستی وي. جیمز مونرو په ډېری ایالاتونو کې پلویان نه لرل، خو پر دې بریالی شو چې په ټاکنو کې د الکټرال کالج له ۲۵۰، ۱۸۷ رایې خپلې کړي. په دې ټوگه نو جیمز مونرو د امریکا پنځم ولسمشر شو. هغه چې واک ته ورسېد، تر ټولو لومړی یې گوندي مسایل او تگلارې یوې خوا ته کړل. سره له دې چې دغه کار یې ملگرې خپه کړل، خو ده غوښتل ملي پال سیاست غوره کړي او ان هغو کسانو ته د امریکا او حکومت په جوړولو کې برخه ورکړي، چې په گوندونو پورې اړه نه لري. دې مسئلې یې محبوبیت نور هم لوړ کړ. د هغه د واکمنۍ پر مهال د امریکا، برېټانیا، فرانسې، هسپانیې او روسیې ترمنځ ستونزې اوج ته رسېدلې وې. مونرو پر دې پوهېده چې په دغو مسایلو کې لاسوهنه یې د هېواد په گټه نه ده، نو ځکه یې د بې طرفه امریکا لپاره بهرنۍ تگلاره جوړه کړه. هغه په دې توگه بریالی شو، چې امریکا له ډېرو ستونزو وژغوري او بې طرفي یې وساتي.

د امریکا دغه پیاوړي ولسمشر د برابرۍ او مساواتو لپاره هلې ځلې کولې. هغه په ملي کچه د غلامانو د ازادۍ ملاتړ کاوه. له واک نه چې گوښه شو، نو له مالي ستونزو سره هم مخ و. ویل کېږي چې هغه په ۱۸۲۵ ز کال کې کمزوری اقتصاد درلود. په ۱۸۳۰ ز کال کې د امریکا دغه پیاوړی ولسمشر په نیویارک کې ومړ، د خدمتونو په ویاړ یې، مډالونه، مجسمې او روزنځایونه جوړ شوي دي.

همیانی

# عاطفي ځورونه

حمیدالله حمیدي

عاطفي ځورونه هغه هڅه ده، چې يو څوک يې ستاسو د ډارولو، کنټرول لاندې راوستو او يا هم منزوي کولو لپاره کوي. دغه کړنې تر ډېره په خبرو او له تاسو سره د چال چلند پر مهال تر سره کوي. کېدای شي په ورځني ډول ډېر له دې ډول چلند سره مخ شوي ياستی، خو زيان بيا هغه وخت درته رسوي، چې دا هر څه زړه ته واچوی. که مقابل کس پوه شي چې عاطفي ځورونې يې در باندې اغېز کړی، کېدای شي دغه کار ته ادامه ورکړي او ځان خپلې موخې ته ورسوي. مهمه نه ده چې مقابل کس څوک دی. کېدای د ژوند ملګرى مو وي، همکار مو وي او يا هم بل نږدې څوک وي. خو که هر څوک وي، حق نه لري چې له تاسو سره دا ډول چلند وکړي. دا ليکنه پر همدې موضوع راڅرخي. له دې ډول کړنو څخه تر ډېره د دې لپاره کار اخيستل کېږي، چې ستاسو عزت نفس کمزوری کړي، دغه چلند که هر څومره کم هم وي، خو ازار يې ډېر زيات وي. له بېلګو څخه يې په لاندې ډول يادونه کولی شو:

**۱- نوم ايښودل**

دوی په ټوله بې شرمۍ تاسو ته د احمق، بايلونکي، بې سويې، بې وړتيا او يا نور داسې بد صفات يادوي، چې دلته يې ليکل ضرور نه دي.

**۲- د مسخره لقبونو کارول**

دغه کړنه هم کټ مټ لکه پر خلکو نوم ايښودلو ته ورته ده. لکه ( اې زما شادګله زويه، اې زما لوی سريه زويه) او يا دې ورته نور لقبونه. په ياد ولرئ چې دا ډول لقبونه هېڅکله د مينې او عاطفې په مانا نه دي، بلکې دا يوه عاطفي ځورونه ده.

**۳- د شخصيت وژل**

په دې کړنه کې دوی تر ډېره د (تل) کلمه کاروي. د بېلګې په توګه وايي، ته تل تېروتنه کوې، تاسو تل ناوخته راځی او يا هم تاسو تل دا ډول احمقانه کارونه کوی. دوی په دې ډول سره غواړي تاسو ته ووايي، چې تاسو ښه خلک نه ياست.

**۴- تونده خبره درته کوي**

په لوړ اواز او ناوړه خبرې کول هغه څه دي، چې په دې سره مقابل کس غواړي تاسو کوچني وښيي. ډېر کله داسې هم کېږي چې له مخې سره مو يو څوک يوڅه پر سوک يا پښه باندې په زوره وهي او خپله غوسه پرې سړوي.

**۵- ظاهري ملاتړ**

دوی ظاهراً غواړي داسې ښکاره کړي، چې ملاتړ در څخه کوي، خو د ملاتړ خبرې يې هم يو ډول له زهرو ډکې وي. د بېلګې په توګه وايي، (ګرانه زه پوهېږم چې د دغه کار لپاره خپل وس کوې، خو دغه څه ستا له سويې يو څه پورته دي).

**٦- د خلکو په مخ کې توهين**

دوی غواړي د خلکو په مخ کې ستاسو رازونه ښکاره کړي او يا مو تېروتنې درته وښيي.

**۷- له حقيقته انکار کوي**

کله چې غواړی د هغوی په مخ کې د يوې موضوع په اړه خبرې وکړی، دوی يادې موضوع ته هېڅ اهميت نه ورکوي. دوی هڅه کوي چې په دغه وخت کې له خپلې بدې ژبې کار واخلي او په يو ډول داسې ښکاره کړي، چې ګواکې دا موضوع هېڅ د بحث وړ نه ده او ډېره کوچنۍ ده.

**۸- ځان تېروي**

ډېرې کړنې يې واضح نه وي. کله چې پرې نيوکه وکړی، کېدای شي درته ووايي، دا خو عادي خبره ده، ډېره جدي يې مه نيسه.

**۹- مسخره کوي مو**

کېدای شي ډېرې وخت کله چې له کور څخه وځی، په داسې حال کې چې له هره اړخه به منظم وی، خو دوی درته وايي، وېښتان د څومره ګډوډ دي، داسې يې او هغسې يې. غواړي په يو ډول نه يو ډول ازار در ورسوي.

**۱۰- غواړي واړه مو معرفي کړي**

دغه ډول کسان هڅه کوي، چې واړه مو معرفي کړي او يا مو موقف ته په سپکه سترګه ګوري.

**۱۱ ذوق او علاقه مو مسخره کوي**

کېدای شي درته ووايي، چې ډېر ماشومانه ذوق مو دی او هسې وخت ضايع کوی. که ورزش کوی، درته وايي، هېڅ ښه نه ځلېږې او يا هم دېته ورته نورې خبرې درته کوي. په اصل کې دوی غواړي چې تاسې د هغوی له حضور پرته هېڅ کار تر سره نه کړی.

**۱۲- په غوسه کوي مو**

دوی پوهېږي چې په کومه خبره غوسه درځي. هر وخت دا هڅه کوي يا چې کله موکه په لاس ورشي، د هغې خبرې سر را اچوي چې تاسې پرې غوسه کېږی او دوی ستاسو له غوسې څخه خوند اخلي. دوی د دې لپاره چې يو ډول مو تر لاس لاندې وساتي، ستاسو په داسې کړنو پسې ګرځي، چې په يو ډول نه يو ډول مو خجالت کړي. کېدای شي دغه لاندې ټکي ستاسو د خجالتۍ لپاره وکاروي.

**۱۳- کړه وړه مو څاري**

دوی هڅه کوي څو پوه شي چې تاسو چېرته ځی، د ورځې په اوږدو کې څه کوی او که تاسو په هر حال او هر موقعيت کې وی، د هغوی پيام او ټيليفون ته ځواب ورکړی.

**۱۴- ډيجيټالي جاسوسي**

کېدای شي درڅخه وغواړي چې د انټرنېټ تاريخچه مو، ايميلونه مو، پيغامونه مو او د موبايل شمېرې مو وګوري او ان دا چې پاسورډونه مو هم وغواړي.

**۱۵- يو اړخيزه او په خپله خوښه پرېکړه**

کېدای شي د بانک اکونټ مو وګوري، له ډاکټر سره ليدنه مو لغوه کړي او يا مو له رييس سره ستاسو له خبرېدو پرته، ستاسو په استازيتوب خبرې وکړي.

**۱٦- ستاسو په اړه قضاوت**

دوی ستاسو د تېروتنې په اړه په ساعتونو خبرې کوي. په دغه کار سره غواړي دا ثابته کړي، چې تاسو تر هغه ټيټ او کمزوري ياست.

**۱۷- مخامخ در باندې امر کوي**

له دې ډول جملو (خواړه مې ژر راوړه) نيولې له ډېرو نورو دستوري جملو کار اخلي. په دغه کار سره غواړي، چې تاسې تل د هغوی تر کنټرول لاندې وی.

**۱۸- بې ځايه غوسې**

د بېلګې په توګه، له تاسو يې غوښتي چې له دوستانو سره بېرون ته مه ځی، خو تاسو يې دا غوښتنه په پام کې نه ده نيولې. دوی هڅه کوي چې د ډېر وخت لپاره دغه څه د يوې وسيلې په توګه وکاروي او هر وخت يې په دې بهانه مطرح کړي، چې ګواکې تاسو د چا خبرې ته ارزښت نه ورکوی.

**۱۹- د ماشومانو په څېر در سره چلند کوي**

درته وايي، دا جامې واغونده او دا مه اغونده او يا هم دا خواړه وخوره او دا مه خوره. له پلانې سره مه ګرځه او يا هم بل د خوښې کار د هغوی له مشورې پرته مه کوی.

**۲۰- ګډوډ چال چلند کوي**

هغوی ډېر کله پرته له کومې خبرې غوسه کېږي. يا دا چې په نه خبره يې در سره ډېره مينه پيدا شي او له اخلاصه ډکې خبرې در سره کوي. تاسو هېڅ نه پوهېږی چې اوس په کومه خبره خوشاله او په کومه خبره خپه کېږي.

**۲۱- خپله پړه هم پر تاسو اچوي**

پر دوی باندې چې کومه ستونزه هم راځي، تاسو ګنهګار ګڼي. دوی که په هر څه کې ماتې خوري، پړه يې يو ډول پر تاسو اچوي او وايي، دا هر څه ستا له لاسه پر ما راځي. دغه ډول کسان هر وخت خپلې غوښتنې ستاسو پر غوښتنو لوړې بولي او دا يو ډول ناروغي ده.

هڅه وکړئ لومړی خپل ځان، د کورنۍ غړي او ملګري له دې ناروغۍ وژغورئ. لوستي او عالم انسان هېڅکله په دې ډول ناروغۍ نه اخته کېږي. اخلاص من خلک د ځان تر څنګ، د نورو پرمختګ هم غواړي او هغه په يو ډول د ځان په ګټه بولي. خو کمزوري خلک بيا نه شي زغملی، چې يو څوک د تر هغه په عقل، خبرو، وړتيا او نورو کې مخکې وي.

## عمران خان: په افغانستان کې سوله د ايران او پاکستان دواړو په ګټه ده

د پاکستان لومړي وزير عمران خان ويلي، په افغانستان کې سوله او ثبات د پاکستان او ايران دواړو په ګټه دي.

د ايران تسنيم دولتي اژانس د راپور له مخې، عمران خان دغه څرګندونې تېره ورځ په ايران کې د دغه هېواد له ولسمشر حسن روحاني سره د ليدنې پر مهال کړې دي.

نوموړي ډاډ ورکړی چې پاکستان د افغانستان د ستونزې د سياسي هوارې په برخه کې له ايران سره همکارۍ ته چمتو دی.

عمران خان ويلي: «موږ له ايران سره د افغانستان د موضوع د هوارې په برخه کې همکارۍ ته چمتو يو، ځکه که په افغانستان کې سوله راشي، يوازې د افغانستان د خلکو لپاره نه چې له تېرو ۴۰ کلونو له جګړو ځورېږي، ګټوره ده؛ بلکې د پاکستان او ايران د خلکو په ګټه هم ده».

هغه دغه راز ويلي چې په افغانستان کې د تېرو څلورو لسيزو جګړو له امله، په پاکستان کې څلور ميليونه او په ايران کې هم درې ميليونه افغان کډوال ژوند کوي، چې د نوموړي په خبره، په افغانستان کې سوله د دواړو هېوادونو په ګټه ده.

عمران خان زياته کړې، چې په افغانستان کې د سولې په رامنځته کېدو سره به د دواړو هېوادونو سوداګري وده وکړي.

د تسنيم اژانس د راپور له مخې، دواړو لورو په دې غونډه کې په افغانستان کې د يو سياسي هواري رامنځته کېدو په برخه کې د همکارۍ ژمنه کړې ده. په ورته وخت کې د نړيوالو چارو شنونکي وايي، ايران او پاکستان په افغانستان کې داسې سوله غواړي، چې د دوی دواړو په ګټه وي.

د سياسي چارو شنونکي انتظار خادم امريکا غږ ته ويلي، په داسې حال کې چې د افغان سولې په اړه د امريکا هڅې زياتې شوې، نو دغه دواړه هېوادونه هم شرايطو ته په کتو هڅه کوي، چې د افغان سولې له بهير سره د همکارۍ په برخه کې د ناټو له غړو هېوادونو او امريکا څخه باج واخلي.

هغه ويلي: «دوی هېڅکله په افغانستان کې د داسې سولې او ثبات غوښتونکي نه دي، چې د دوی ګټې پکې نغښتې نه وي. که څه هم حالات بدل شوي دي، خو دا چې اوس حالات بدل دي، دا مسئله حتمي ده».

نوموړي زياته کړې چې ايران او پاکستان غواړي په افغان سوله کې داسې رول ترسره کړي، چې دوی پکې ځنډې ته نشي او ګټې يې خوندي شي.

## شاهين: د قطر په راتلونکې ناسته کې د بهرنيو ځواکونو د وتلو پر مهالوېش خبرې کوو

په قطر کې د طالبانو د دفتر وياند سهيل شاهين ويلي، له امريکايي پلاوي سره به په راتلونکي پړاو خبرو کې له افغانستانه د ټولو بهرنيو ځواکونو د وتلو پر مهالوېش خبرې وکړي.

نوموړي د فرانسې له خبري اژانس سره په مرکه کې ويلي: «د خبرو په تېر پړاو کې دوی له امريکا سره له افغانستانه د ټولو بهرنيو ځواکونو پر وتلو هوکړې ته رسېدلي او په راتلونکې ناسته کې به يې د مهالوېش پر جزياتو بحثونه وشي».

تر دې وړاندې د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد ويلي وو، چې له طالبانو سره په خبرو کې تر هغو چې په ټولو مواردو هوکړه نه وي شوې، په دې مانا ده چې په هېڅ شي موافقه نه ده شوې.

خليلزاد دغه راز ويلي وو چې د بهرنيو ځواکونو وتل، د ترهګرو پر ځالې د افغان خاورې نه بدلېدل، بين‌الافغاني خبرې او د اوربند ټينګښت هغه موارد دي، چې دی يې له طالبانو سره په اړه خبرې کوي.

نوموړي د دغو څلورو مواردو له ډلې په دوو لومړيو هغو کې، چې له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو وتل او د دغه هېواد له خاورې د تروريزم د نه استفادې د ډاډ حاصلول دي، د پرمختګونو يادونه کړې ده.

نوموړي له ازادي راډيو سره د بهرنيو ځواکونو د وتلو په تړاو په يوه مرکه کې ويلي وو: «که د تروريزم مسئله په افغانستان کې نه وي او افغانستان د بهرنيو ځواکونو موجوديت ته ضرورت ونه لري، که افغانستان او د افغانستان راتلونکی حکومت، طالبان او غيره ضرورت ونه لري او ونه غواړي چې بهرني ځواکونه دلته پاتې شي، موږ تيار يو چې له دغه هېواده ووځو».

خليلزاد دغه خبره له ازادي راډيو سره په ځانګړې مرکه کې، افغانستان او سيمې ته په خپل شپږم سفر کې کړې وه. هغه سفر چې دی يې په پای کې قطر ته هم روان و، څو له طالبانو سره خبرې وکړي، خو نوموړی قطر ته د سفر پر ځای واشنګټن ته ولاړ او هلته يې له خپلو مشرانو سره د افغان سولې په پروسه کې د شته مسايلو په اړه خبرې وکړې.

بلخوا د فرانسې خبري اژانس ويلي چې خليلزاد په را روانو اونيو کې يو ځل بيا له طالبانو سره خبرې پيلوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۷۰ |
| € | ۸۷ |
| Rp. | ٥۳٦ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳٥ |
| £ | ۹۹,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بيړنۍ شمېرې

پوليس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسير ورځپاڼه

**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**اېډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**ليکوالان:** اېمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
**خبريالان:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۸ د غویي دریمه | د ۲۰۱۹ د اپریل ۲۳مه | دویم کال | ۳٦۸مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | ۳۰ | ۳۳ | ۲۸ | ۳۱ | ۲۹ |
| ۱۱ | ۸ | ۱۸ | ۱۱ | ۲۰ | ۱۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:٤٤ | لمر ختل ۰۵:۱٤ | ماسپښین ۱۱:۵۳ | مازیگر ۰۳:۳٤ | ماښام ۰٦:۳۱ | ماخوستن ۰۸:۰۲


## نړۍ



# په سریلانکا کې د وروستیو بریدونو د قربانیانو شمیر ۲۹۰ تنو ته رسېدلی دی

۲

## د اوکراین د ټاکنو لومړنی پایلې ښیي چې زلنسکي، پروشینکو ته ماتې ورکړې ده



د اوکراین د ولسمشریزو ټاکنو د دویم پړاو لومړنۍ پایلې ښیي، چې د ټلوېزیون کمېډین ویلادیمیر زلنسکي خپل رقیب او د دغه هېواد اوسني ولسمشر پېترو پروشینکو ته ماتې ورکړې ده.

د دغه هېواد د ولسمشرۍ دویم پړاو پایلې چې ورمه ورځ ترسره شوې، ښیي چې ویلادیمیر زلنسکي ۷۳ سلنه رایې گټلې او د هغه رقیب اوسني ولسمشر پېترو پروشینکو بیا یوازې ۲۵ سلنه رایې خپلې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ټلوېزیون کمېډین ویلادیمیر زلنسکي، چې په سیاست کې لږه تجربه لري، ځان یو ساده کس بللی و چې د ده په خبره، د اوسني نظام د بدلون لپاره راغلی دی.

دغه هېواد چې اوسمهال له اقتصادي بحران سره هم مخ دی او د کریمیا پر سر له روسي پلوه بېلتون غوښتونکو سره له پنځو کلونو راهیسې په جگړه کې ښکېل دی، ډېری خلک یې داسې انگېري چې په سیاست او ټولنه کې اداري فساد خپل اوج ته رسېدلی دی.

د دغه هېواد د ټاکنو کمېسیون له خوا د رایو د پایلو له خپرېدو وروسته، پېترو پروشینکو چې ځان یې د روسیې د یرغل د مخنیوي یو مدافع معرفي کړی، خپله ماتې منلې او زلنسکي ته یې په ټلیفون کې د بریا مبارکي ورکړې ده.

زلنسکي په کیف کې خبریالانو ته ویلي، چې پروشینکو ورته ویلي چې هر وخت ورباندې حساب کولای شي.

زلنسکي دغه راز ویلي چې د اړتیا په صورت کې به له پروشینکو څخه مشورې غواړي، خو اوسمهال په پام کې لري چې نوي کسان د اوکراین سیاست ته داخل کړي.

زلنسکي په ناټو ترون کې د اوکراین د احتمالي غړیتوب ملاتړ کړی، خو لومړی باید دغه غړیتوب په یوه ټولپوښتنه یا ریفرانډم کې تصویب شي.

## ایران او پاکستان په خپله گډه پوله د ترهگرۍ ضد گډ ځواک جوړوي



د ایران ولسمشر حسن روحاني او د پاکستان لومړي وزیر عمران خان هوکړه کړې، چې پر خپله گډه پوله د ترهگرۍ پر ضد د مبارزې لپاره د چټک غبرگون یو گډ ځواک جوړ کړي.

د ایران ولسمشر حسن روحاني له عمران خان سره په یوه گډه خبري غونډه کې ویلي: «زموږ پر دې توافق وشو چې پر پوله د ترهگرۍ سره د مبارزې لپاره د چټک غبرگون یو شریک ځواک رامنځته کړو».

د یاد ځواک د جوړېدو خبره دواړه هېوادونه په داسې حال کې کوي، چې تر دې وړاندې دواړو یو پر بل تورونه پورې کړي وو، چې د هغو وسله والو پر ضد پوره اقدامات نه کوي، کوم چې د ایران او پاکستان ترمنځ په سرحدي بلوڅ مېشتو سیمو کې فعال دي.

عمران خان له حسن روحاني سره په یاده گډه خبري غونډه کې ویلي: «پاکستان به هېڅ وسله والې ډلې ته اجازه ورنه کړي، چې له خاورې یې د نورو پر ضد فعالیت وکړي».

نوموړي دې ناستې ته ویلي چې د ترهگرۍ ستونزو، په دې وروستیو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ اختلافات زیات کړي دي.

د یادونې ده چې عمران خان د تېرې یکشنبې په ورځ په رسمي سفر ایران ته تللی او دا د لومړي وزیر په توگه دغه هېواد ته د نوموړي لومړنی رسمي سفر دی.

## لویه څارنوالی: ٦۷ مقام بلندپایهٔ حکومت محکوم به مجازات شده‌اند




فرید حمیدی لوی څارنوال می‌گوید که در سال گذشته، ۴۲ هزار دوسیه بررسی و دربارهٔ آن تصمیم گرفته شده‌اند.

نامبرده دیروز در برنامهٔ حساب‌دهی حکومت به ملت، گفته است که مرکز عدلی و قضایی مبارزه با فساد اداری، ٦۷ مقام بلند پایه را که ۱٦ جنرال و هفت معین در میان شان استند، محکوم به مجازات کرده‌است.

او افزوده است که از هفت هزار متهم فراری‌که ۱۲۷۱تن شان به گروه‌های تروریستی پیوسته‌اند، دربارهٔ سه‌هزار تن آنان اجرأت شده‌است. وی همچنان افزوده است: «۱۲۷۱تن تثبیت شده که در مناطق زیر ادارهٔ مخالفان رفته‌اند اینجا زیر تعقیب عدلی استند. ۴٦ تن با مخالفین پیوسته اند، ۵۴ تن فوت کرده اند؛ دربارهٔ ۳۰۰۰ تن اجرأت انجام شده».

حمیدی هم‌چنان گفته است که بررسی‌ها دربارهٔ بد رفتاری جنسی در برابر بازیکن دختران فوتبال، در بیرون از افغانستان نیز ادامه دارند. به گفته او: «همین حالا یک هیئت برای بررسی‌های بیشتر به اروپا رفته اند تا شفافیت بررسی انجام شود».

آقای حمیدی گفته است، در چندین سال گذشته دربارهٔ هفت‌هزار متهم فراری قانون عملی نشده‌است.


در همین حال، برخی از نهادهای ناظر بر کارکردهای حکومت، از بررسی نشدن دوسیه‌های فساد از سوی لویه څارنوالی انتقاد می کنند و ایجاد نشدن یک نهاد ناظر بر کارکردهای نهادهای عدلی و قضایی را علت اصلی عدم پاسخ‌گویی نهادهای عدلی و قضایی می‌دانند.

ناصر تیموری، پژوهش‌گر دیده‌بان شفافیت گفته است: «خلای پاسخگویی در نهادهای عدلی و قضایی است و هیچ نهادی‌که از کارهای این نهادها نظارت کند، وجود ندارد».

نهایی نشدن چون دوسیه اتهام آزار و اذیت جنسی دختران فوتبال‌باز، دوسیه فساد اداری خدای نظر، رئیس پیشین دارالانشاء ولسی جرگه و دوسیه اتهام قانون شکنی موسی تره‌خیل، موارد استند که انتقادها بر لویه څارنوالی را باعث شده‌اند.

## ژوند

## دغه خواړه مو پوستکی ځوان ساتي



د عمر د تېرېدو او زړښت مخنیوی نه کېږي، خو زوړ ښکارېدل تر یوه وخته چاره لري. هغه څه چې تاسو یې خورئ، ستاسو په څېره پوره اغېز لري. په ځانگړې توگه کله چې عمر په پخېدو وي. سم او مناسب خواړه کولی شي چې ستاسو وجود او مخ کلونه کلونه ځوان وساتي.

دلته درسره ځینې داسې خواړه شریکوو چې د عمر په تېرېدو سره سره، بیا هم ستاسې پوستکی ځوان ښکاره کړي.

**سبزۍ او تخمونه**

دا د کلسیم بډایې سرچینې دي او هډوکي له خرابېدو ساتي.

**رومي بانجان**

دا یو داسې انټي اکسیډېنټ لري، چې پوستکي ته د اړتیا وړ پروټین ورکوي. د کولاگین (collagen) په نوم دغه پروټین د پوستکي د خرابېدو او سوروالي مخه نیسي.


**ځمکني توت**

دا هم د حجرو د ساتلو پراخ مواد او په پوره اندازه ویټامین سي لري. دغه مېوه د پوستکي لپاره د کولاگین پروټینونو د بافت جوړېدل پیاوړي کوي، چې پوستکی هوار او نرم ساتي.

**مڼې**

په اونۍ کې یوه یا څو مڼې خوړل د زړه د حملې خطر کموي. مڼې هم د حجرو د سلامتۍ او نوي کېدو لپاره ډېر ویټامینونه لري.

## مثبتې خبرې او پر ژوند یې اغېز



هیله من کسان چې کله خبرې کوي، که یې په خبرو کې کومه منفي کلمه هم وي، د مثبتې هغې په وسیله یې خنثی کوي. دوی دغه ډول خبرې کوي: «موږ نن له یوې جالبې پېښې سره مخ شوو». دوی هېڅکله داسې نه وایي، چې موږ نن له یوې خرابې پېښې سره مخ شوو، هڅه کوي چې همدغه منفي خبره پر مثبتې هغې واړوي. په داسې حال کې چې کېدای شي مانا یې وروسته په نورو خبرو کې روښانه شي. کله چې تاسو په خپل ژوند کې له کومې ستونزې سره مخ کېږئ، ښه ده چې له ځانه ویوښتئ، ولې دغه شی ستونزمن دی؟ ځکه انسانان یو خلاق او فوق العاده ذهن لري چې کولی شي هر ډول ستونزې حل کړي. زموږ د ذهن خلاقیت د دې جوگه دی چې را ولاړې شوې ټولې ستونزې په ډېرې اسانۍ سره حل کړي، نو بیا ولې ستونزې ته ستونزه وویل شي. هڅه وکړئ چې تل ستونزو ته د یوه فرصت په توگه وگورئ چې تاسو ته درکړل شوی، څو بریا ته د رسېدو لپاره ترې پوره استفاده وکړئ. دغه څه یوازې د قوي مدیرانو ځانگړنه ده. د بشري تاریخ تر ټولو ستر حقیقت دا دی چې په هره ستونزه او سختۍ کې یو قوي درس نغښتی دی چې کولی شي په راتلونکي کې تاسو د بریا لور ته سوق کړي.